**بسم الله الرحمن الرحيم**

## مطبوعاتي اعلاميه

**د هند او امریکا په شړلو په افغانستان او پاکستان کې ترهګرۍ ته د پای ټکی کېږدئ!**

**دا د یو پیاوړې راشده خلافت لپاره غوره وخت دی، چې زموږ له دښمنانو سره د یووالي په له منځه وړلو سوله راولي**

(ژباړه)



امنیتي رهبرۍ د ۲۰۱۷ د جون د ۶ مې په ناسته کې د ترهګرۍ د مار سر پیدا نه کړای شو. په کابل کې د ۲۰۱۷ د مې په ۳۱ مه له درنې چودنې وروسته د امریکا او هند شتون د افغانستان له رژیم سره یوه لفظي شخړه را منځته کړه. په بدل کې یې پوځي رهبرۍ په کابل کې د امریکا له ګوډاګي رژیم سره د مرستو له دوام څخه ډاډ ورکړ؛ په داسې حال کې چې د کابل رژیم، چې د وروستیو ترهګریزو بریدونو پړه یې پر پاکستان اچولې وه، ورټل شو. د کابل د وحشتناک برید ګټه یوازې امریکا ته ورسېده، دوی د پاکستان پر پوځ نور فشار هم اچوي چې له قبیلوي مخالفتونو سره پر مبارزې د امریکا پوځیان وساتي. سربېره پر دې، ښکاره خبره ده چې په سیمه کې ترهګري د امریکا د سي آی اې او هند د (RAW) څارګرو ادارو په لاس خپرېږي، چې موخه یې زموږ د دښمنانو د ګټو خوندي کول دي. دا د ریمونډ ډیویس له قضیې، کولوبشن جدهو او د پاکستان د طالبانو د تحریک د ویاند له اعتراف څخه څرګنده شوه.

د هند او امریکا تر مشرۍ لاندې ترهګري افشا شوه، یو بل څه چې افشا شوي هغه د پاکستان له خوا د ترهګرۍ د مار سر نه پرېکول دي، چې هغه د هند او امریکا شتون دی. تر دې ناوړه دا چې له امریکا سره د پاکستان د حاکمانو نږدې اړیکې او هند سره خپلوي او د اړیکو عادي کول زموږ د دښمنانو ترهګریزې هڅې لا پیاوړې کوي. نن له امریکا سره د پاکستان یووالی زموږ په خاوره کې د ریمونډ ډیویس ترهګرې شبکې ته لاره هواروي. نن له امریکا سره د پاکستان اړیکې د دې لامل شوې چې زموږ ځواکونو په غلت لاره وکارول شي او په افغانستان کې امریکایي سرتیري پرې وساتي؛ چې دا کار په خپل وار د هند کولوبشن جدهو شبکې ته دروازه پرانیزي. هغه مالي او ځاني زیانونه چې راته رسیږي، لامل یې زموږ له دښمنانو سره د رژیم ایتلاف دی، له دوی سره لیوالتیا ښودو، زموږ په هیواد کې د دوی پټنځایونو او تداروکاتو ته پراختیا ورکول، دوی ته پر موږ بر لاسی ورکوي او موږ پرې وهي. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

(إِن يَثْقَفُوكُمْ يَكُونُواْ لَكُمْ أَعْدَآءً وَيَبْسُطُواْ إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ وَأَلْسِنَتَهُمْ بِالسُّوءِ وَوَدُّواْ لَوْ تَكْفُرُونَ) [الممتحنه:۲]
*د هغوی چلند خو دا دی چې که پر تاسو برلاسي شي، نو دښمني به درسره وکړي او پر لاسونو او ژبه به آزار در ورسوي. هغوی خو دا غواړي چې تاسو دې (په یو ډول ) کافران شئ.*

څو چې هند او امریکا زموږ په سیمه کې وي، زموږ د دښمنانو په لاس د ویجاړیو پای به هېڅکله ونه وینو. زموږ ځواکونه فزیکي وړتیا لري، چې د الله سبحانه و تعالی په امر به په یو ساعت کې د یوې پیاوړې او مخلصې رهبرۍ څښتن شي. دوی د هند او امریکا ډیپلوماتیک ماموریت بندولی شي، چې د وژنې او بمبارۍ د پلان لپاره د مار غارونه دي. دوی ټول هغه کینه کښ چې د راتلو لپاره وېزې ورکړل شوې، شړلی شي. دغو موضوعاتو ته هغه وخت د عمل جامه ور اغوستل کېدای شي، چې کله زموږ پوځ حزب التحریر ته په نصرت ورکولو د پاکستان پر پاکه خاوره خلافت تاسیس شي.

**د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۳۸هـ.ق، د رمضان ۶ مه**

**۲۰۱۷م، د جون ۷ مه**

**شمېره: PR17045**